# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com    www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

داحمدشاه وردګ ژباړه:

۱۹ می ۲۰۱۲

# په سوریه کی د سی آی ای انقلاب؟

## په سوریه کی دیوکلنی نسکورونی څخه ځانګړی اطلاعات

تردمګړی په سوریه کی((انقلاب)) دامریکی دمتحده ایالتونو د مرکزی اطلاعاتو دمرکزی اداری(سی آی ای) دهماغه پخوانیو لسیزو کړنلارو کاپی ده چی پکی دنظامونو اوحکومتونو دپرزولوماډلونه پراته دی.

یعنی ترسترګو لاندی هیواد ته دمزدورانو او دمرګ دډلګیو استول. داکټ مټ هماغه څه دی کوم چی په لیبیا کی پیښ شول اوامریکی، انګریز اواسراییلو دالقاعدی جنګیالی[ډاراچوونکی ډلګی] چی کلونه پخوا یی په چوپړ کی نیولی وپه دی هیواد کی ځای پرځای اوخپاره کړل.

دفارس دراپور په اساس، د((sott)) خبری هډی په یوه ګزارش کی دسوریی په یوکلن کړکیچ کی دامریکی دځارګری اداری (سی آی ای)دونډی اورول په هکله رڼا اچولی.

ددی راپور لیکوال جوی کوین داسی لیکی: په داسی حال کی چه دسل ګونوزرو خلکوتصویرونه چی دخپل جمهور رییس اسد په پلوی راټول شوی ، خپاره شول، ولی لویی رسنی زیار باسی ترڅو داسی وښیی چی ګواکی دسوریی کړکیچ هم ((دعربی انقلابونو دپسرلی)) پشان دی. ولی پیښی داسی ښیی کوم څه چی په سوریه کی روان دی د امریکی هغه خونړی پټ عملیات دی چی هیوادونه پری پرځوی.

دی ټکی ته په کتو سره چی امریکا ۶۰کاله پخوا په یوه نړیواله امپراتوری بدله شوی، څومره ورته ستونزمنه ده چی دټول ځواک اوبنسټکاری اواغیزی سره چی لری یی ،په یوه بل هیواد کی(انقلاب-اوښتون) راولی؟

بنایی ځواب هک پک کونکی وی. دانقلاب جوړونه آسان کار ندی ولی ترکومه چی دامریکی امپراتوری دبی ګناه خلکو دوژلویوه امریکا وی، اوهغه هم ددی لپاره چی داانګیرنه رامنځ ته کړی چی ګواکی دسوریی حکومت داړن (وحشی) دی اوباید له لاسه یی خلاص شو، نو دانقلاب راوستل شونی دی. دامریکی تاریخ په زیاد رسولی چی واشنګټن دخپلو ژیو سیاسی کړنلارو دپلی کولو لپاره هیڅ ورځ هم دسلګونو یا زرګونو اویا ترملیونو خلکو دوژلو څخه ډډه نده کړی اونه به یی وکړی.

په نړیوالو دلوژنو کی دسی آی ای(سیا) تاریخ ته کتنه:

په ۶۰ او۷۰ لسیزوکی دامریکی ځارگریزی اداری د(( دکمونیسم پروړاندی دانقلابی جنگیالیو)) په نامه ډلگی په لاوس کی ترخپلو مالی اووسله ایز وزده کړواوروزنی لاندی ونیولی. ددی کار پایله په لاوس دامریکا دپوځ بی دریغه بمبارد و- ددی بمونو حجم چی دسیمی دخلکو په سر تویی شول ددوهمی نړیوالی جگړی دټولو اچول شویو بمونو دحجم نه درو ند و- ددی عملیاتو ترمخه اودهغه نه ورپسی ترننه پوری سی آی ای((سیا)) دنړی په لسگونو هیوادونو کی په لسگونو کودتاوی اوخونړی عملیات په لاره اچولی ترڅو دامریکا داقتصاد ساتنه اودامریکی دواکمنی لمن پراخه اوټینگه کړی.

له ۱۹۴۷ څخه چی د سی آی ای بنسټ ایښول شوی، دامریکی دمرکزی اطلاعاتو سازمان ۳۰۰۰ لوی عملیات او ۱۱زره کوچنی عملیاتو له دی ډول څخه ترسره کړی دی. د سی آی ای پخوانی عامل جان بستوکویل( چی په ډیرو نومړو عملیاتو کی برخوال و) وایی، دغه ټول عملیات ناقانونه اوله دوی نه ډیر(( خونړی، وحشیانه ))اوله تصوره پورته و.[ آیا باورکولای شی] چی تر ۱۹۸۸ کال پوری دامریکی دعملیاتو دوژل شویو شمیره ۶ملیونو انسانانو ته رسیږی.

په هغه مرکه کی چی ((امی گوډمن)) د۲۰۰۷کال دمارچ په ۲ وکړه، جنرال وسلی کلارک په ډاگه کړه چی دبوش دولت په ۵ کلونو کی د۷ هیوادونو دله منځه وړلو کړنلاره جوړه کړی. دغه هیوادونه عراق، سوریه، لبنان، سومالیه، سودان اوایران دی. وروسته ددی نیونی واراو ترتیب بدل شو ولی کړنلاره هماغسی دامپراتوری دوینه زبیښونکو لاردانو(واکمنانو)دغوښتنو سره سمه په مخ روانه ده.[دبوش دجمهوری ریاست دوره] پای ته ورسیده اواوس بارک اوباما دواک په گدی ناست دی او داوباما دولت به څرنگه وکولای شی هغه سیاست پرمخ بوزی چی ډل وژنه یی یوه نه بیلیدونکی برخه ده اوکوم سیاست چی بل دولت ورته لا پخوا پیل کړی دی؟

دغه پیښی[یعنی وژنی] په افغانستان، عراق اولیبیا کی وشوی. اوس هم سوریه ده چی دناتو(امریکا/اسراییل) په لست کی وارپری راغلی چی نظام یی بدل شی. دامریکی دمرکزی اطلاعاتو داداری(سی آی ای)، دانگلیس دځارگریزی اداری(ام آی سیکس) اوداسراییلو د(موساد) دپښو پل دسوریی څخه د پیښو په خبری پوښښ کی له ورایه څرگند دی. له سوریی څخه خلاصیدل داسراییلو لپاره له مخکی ټاکل شوی کړنلاره ده. دغه کړنلاره له کلو راهیسی د اسراییلو په طرح کی شتون لری. اوټاکونکی علت یی هم دادی چی سوریه یو خپلواک، لاییک اوگډ قومی عربی هیواد دی اوپه سیمه کی دایران ملاتړی دی نو په منځنی ختیځ باندی داسراییلو دخیتی اچونی په لاره کی خنډ دی.

په حقیقت کی خبره ، هماغه دعربی هیوادونو ترمنځ داړدوړ خبره ده چی دغربیانو اواسراییلو واکمنی اوددوی زوراچونی ته غاړه نه ایږدی. دغه هیوادونه ترهغه پوری داړدوړ ښکارکیږی ترڅو دځان ساتنی لپاره ځانگړی امنیتی بنسټونه ولری. همداوخت دی چی دامریکی اواسراییلو لپاره لاره هواریږی ترڅو دتمساح اوښکی وربادی تویی کړی چی گواکی ددوی ترسترگو لاندی هیواد کی دخپلواکیو کچه ټیټه ده اودپرزولو لپاره یی ښه موکه بولی. دغه بیلگه په ونزویلاکی دچاوزسره دلودیځو ځواکونودکړنلارو څخه په روښانه څرگندیږی.

دعربوسره داسراییلو دکړکیچ ریښی لکه څرنگه چی ټول خبر دی، په دی کی نغښتی چی صیهونیزم پریکړه وکړه چی یهود په عربی خاوره کی دیوه هیواد شتون ته اړ دی. دانگریز په مرسته اوله لږ توکم پاکونی څخه د۳۰ اوی۴۰ لسیزو په پای کی، داسراییلو دبنسټ ایښوونکو په لاسونو اسراییل جوړ شو چی بیا تراوسه دخپلو گاونډیانوسره په دوامداره توگه په جگړو اوشخړولگیادی. ولی په سوریی دبرید لیوالتیا په امریکی دواکمنو میرڅمنو دواک دشهوت اودنورو دځورولو سره په مینه کی ترسترگو کولای شو. داهماغه څه دی چی دمعمر

القذافی په خونړی مړینه دهیلاری کلینتون په خوښیواوخوند اخیستلو کی مو ولیدل. خوامخوا په سوریی برید نوری موخی اوعلتونه هم درلودل ، په دی ډله کی دسوریی ددولت لخوا د۲۰۰۶ کال راپدیخوا په خپلو ټولو مالی راکړی ورکړوکی دامریکایی ډالر په ځای له یورو څخه کټه پورته کوله، یاداچی ددی هیواد جمهور رییس په ډانګ پییلی اعلام کړل چی یاسر عرفات اسراییلیانوله منځه یووړ.

تردمګړی دسوریی((انقلاب)) په تیرو لسیزو کی دامریکی دمرکزی اطلاعاتود اداری دنظامونو(حکومتونو) دبدلولو داصل کاپی ده. یعنی ترسترګولاندی هیواد ته دمزدورانو اودمرګ ډلګیو استول اودوضعی دومره پارول اوتر بمباردونوپوری دهغی غځول ترڅوچی په ټولیزه توګه هرڅه تیار شی. داهماغه څه دی چی په لیبیا کی پیښ شوول، امریکی ، انګریز اواسراییلو له خپلو ټولو شتوامکاناتو ګټه پورته کړه اودالقاعدی[ترهګری ډلګی] یی چی کلونه پخوایی ترروزنی لاندی نیولی وی، په دی هیوادکی ځای پرځای اوبیا خپری کړی.

نوی ترهګر، بلحاج دلیبیا دجنګیالیو بولندوی که دسی آی ای عملیاتی مامور؟

باید په زغرده ددی ټکی یادونه وکړو چی په طرابلس دوسله والوبریدونوبولندوی اودطرابلس پوځی بولندوی یعنی عبدالحکیم بلحاج دپام وړسابقه() لری. هغه دهغو افغانی عربانو څخه و چی دامریکی په مالی مرسته یی روزنه وشوه بیا دشورویانو په وړاندی دجګړی لپاره افغانستان ته واستول شو. د۱۹۹۰ کلنو په پیل کی مخکی له دینه چی بلحاج لیبیا ته واستول شی په منځنی ختیځ کی ځای پر ځای شو. نوموړی په لیبیا کی دیوی جنګی په ظاهره اسلامی ډلی سره یو شو اومخکی تردی چی له لیبیا څخه په وتلو اړایستل شی زیار وایست ترڅو معمر القذافی راوپرځوی. وروسته له هغه نه افغاستان ته لاړاوله طالبانو سره یوځای شو. دسپتمبر دیوولسمی دپیښی اودلودیځ سره دقذافی دسربښورونی نه وروسته دلیبیا چارواکو دبلحاج دنیولو حکم صادرکړ. په دی حکم کی ویل شوی و چی بلحاج دالقاعدی دډلګیو اوپه ځانګړی توګه له ملاعمر سره ټینګی اړیکی لری. ښکاره ده چی بلحاج په جلال آباد کی دعرب جنګیالیو دروزنی دپنډغاړو مسوولیت په غاړه درلود اودهسپانیی دلومړی وزیر اتنار په وینا چی شکونه شته دی چی دمادرید د۲۰۰۴ کال دچاودنوسره دنوموړی دتړاوراپه ګوتو کوی،ځکه نوموړی په پټه دامریکی دڅارګری اداری (سی آی ای) پېژ سړی دی. ولی دامریکی دمرکزی اطلاعاتو اداری نوموړی په ۲۰۰۴ کال تر څارلاندی راووست، اوپه بانکوک کی یی ونیواودلیبیا پټو جیلونو ته یی واستاوه اوترهغه په جیل کی و ترڅو دامریکی دڅارګری اداری (سیا)په مرسته وتښتید اودلیبیا دانقلاب بولندوی شو.

که په دی لانجه کی کوم څه روښانه نه وی اویایی کوم ځایونه تیاره وی نو په ساده ډول پیښه په دی ډول ده: دامریکی څارګره اداره (توره) په اصطلاح اسلامی ترهګر په بیه رانیسی، یعنی هغه کسان چی پر وړاندی یی ((دترهګری پر وړاندی جګړه)) ترپوښښ لاندی نیول کیږی ترڅو هغو هیوادونو ته داسی خپلواکی او ولسواکی(دموکراسی) په زیری کی راوړی چی همدااسلامی ترهګر په خپله خیټه کی خوندی وساتی.

له بلحاج څخه وروسته دوهم کس:

دمهدی الحاراتی په نامه یولیبیایی توکمه ایرلنډی، له بلحاج چی راتیره شی نو ددلیبیا دطرابلس په پوځی شورا کی نوموړی دوهم کس بلل کیږی. ده له یوی ایرلنډی میرمنی سره واده کړی. مهدی په خپلو څرګندونو کی ویلی چی په ۲۰۱۱ کال کی یی دامریکی دڅارګری سازمان (توری) څخه پیسی ترلاسه کړی ترڅو دقذافی دراپرزولو لپاره جنګی ډله جوړه کړی. په هغه راپورکی چی سنډی ورلډ آرتیکل د۲۰۱۱ کال دنومبر په ۶ خپورکړ ، په ډاګه شوی چی تیره میاشت په دوبلین کی دمهدی له کوره د۲۰۰زره یورواوځینی لوړبیه ګنی غلاشوی. په دی راپورکی ویل شوی چی ورانکارو ډلو دمهدی الحاراتی له کوره دنومبر په شپږمه د۵۰۰ یورو دوه کڅوړی غلا

کړی . دغه ورځپاڼه چی خپل اطلاعات یی دپولیسو څخه ترلاسه کړی دهغوی په حواله لیکی چی الحاراتی چی په دوبلین کی اوسیده اودا ۲۰ کاله دعربی ژبی ښوونکی پاته شوی و، نوموړی غلاشوی پیسی دامریکی دڅارګری اداری (توری) څخه لاس ته راوړی.

دایرلند دپولیسو یو چاروای هک پک شو کله یی داخبره ترغوږشوه چی مهدی الحاراتی په ډاګه ویلی چی په تیره میاشت کی یی فرانسی، امریکی اوقطر ته سفرونه کړی اودمعمر القذافی دراپرځولو لپاره یی ډیری پیسی د سی آی ای څخه ترلاسه کړی چی دادوه پاکټه یی له خپلی میرمنی سره په دوبلین کی پری ایښی وو، اودنورو شتمنیو سره لیبیا ته راغلی دی. دیادونی وړده چی دمالونو دغلاڅخه څه موده وروسته مهدی الحاراتی دطرابلس دپوځی شوری څخه استعفا وکړه.

ددوومیاشتو په کمه موده کی د۲۰۱۱ کال دنوامبر په ۱۷ نیټه د ای ب سی په نامه یوی اسپانیایی وځپانی د انیل اریارتی په قلم د((لیبیایی اسلام پال دسوریی دانقلاب[هماغه وسلوال اړدوړ] دملاتړ لپاره سوریی ته ځی)) په یوه لیکنه کی په ډاګه کړه. دانیل سوریی ته په خپل سفر کی دری لیبیایان ولیدل: آدم کیکلی چی دبلحاج تربولنی لاندی یی کارکاوه، فواد دده ځانی ساتونکی اومهدی الحاراتی. الحاراتی دغه اسپانیایی ورځپاڼ لیکونکی ته په ډانګ پیبلو وویل چی دی اوملګری یی ځکه په سوریه کی دی ترڅو ((دسوریی دانقلابیونو هیلی پوره کړی، اوددی لپاره ندی راغلی چی جګړه پرمخ بوزی.))

اما باید سوال کرد که مزدور سیا در سوریه چه می‌کند؟ پاسخی که این خبرنگار از او شنید همان جوابی است که اگر هر جاسوس دیگری از سیا در سوریه بازداشت شود، از او خواهید شنید. امر موضوع زمانی تعجب‌برانگیزتر شد که الحاراتی اعتراف کرد که به هنگام حمله اسرائیل به کشتی مرمره (ناوگان آزادی) زخمی شده و ۹ روز در تل‌آویو بازداشت و در زندان بوده است. عجیب این است که این مزدور و جاسوس مسلمان و بلندپایه سازمان سیا همیشه به نیابت ناتو، آماده سرنگون کردن رهبران کشورهای اسلامی است (چه لائیک باشند چه نباشند) گویی که فعال حامی آرمان فلسطین (و ضد یهود) است. مگر اینکه در عرشه کشتی مرمره [ترکیه] جاسوس موساد باشد.

باید وپوښتل شی چی د(توری) مزدور په سوریه کی څه کوی؟ کوم ځواب چی دی ورځپاڼلیکونکی ترلاسه کړ هماغه ځواب دی چی که چیری دتوری هر جاسوس په سوریه کی ونیول شی ، هماغه واوری. دډیری حیرانی خبره خو دلته ده چی الحاراتی په دی اعتراف وکړ چی په مرمره(دخپلواکی بیړی) داسراییلو په برید کی سخت ټپی شو اوبیا ۹ورځی په تل آویو کی بندی اوپه جیل کی و. ډیره دحیرانتیا خبره ده چی دتوری دغه لوړپوړی مسلمان جاسوس دناتو په استاذیتوب داسلامی هیوادونو دمشرانو(که لاییک وی اوکه نه وی) دراپرځولولپاره چمتو دی ، داسی چی ته به وایی دی دفلسطین دلویی هیلی پولوی پلوی او د(یهودوضد) دی. ولی د[ترکیی] دمرمره بیړی په غولی کی دموساد جاسوس وی.

په ظاهره توګه هغه ترهګر چی اسلامی نومونه لری هغه کسان دی، چی خپلواکو ولی په ناتوپییل شوی هغه مزدوران دی چی سلګونو زرو ډالرو په بدل کی دهغوی په چوپړ کی دی.